ورځپاڼه

# هیواد

مؤسس: عبدالرووف بېنوا | د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز | شنبه د محرم الحرام ۹ مه ۱۴۴۷ق کال، د چنګاښ ۱۴ مه ۱۴۰۴ ل کال، د جولای ۵ مه ۲۰۲۵م کال، خصوصي ګڼه ۸۲ یمه ، پرله پسې ګڼه ۷۴۵مه، اتمه دوره


## عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د قضايي مسئولينو لپاره په جوړ شوي سمينار کې وينا وکړه

عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) په کندهار کې د قاضیانو لپاره په جوړ شوي درې ورځني اصلاحي او روزنيز سمينار کې چې د ستري محکمې رئيس، د ستري محکمې معاونينو، د نظامي محکمې نظامي مرستيال، د امربالمعروف او نهی عن المنکر او شکاياتو اورېدلو وزير، د چارو اداري لوی رئيس، د علومو اکاډمۍ رئيس، د دارالافتا لوی رئيس، د ستري محکمې د تميز رئيسانو، د تميز د ديوانونو رئيسانو، د نظامي محکمو رئيسانو او قاضيانو، د ولايتونو د مرافعې محاکمو رئيسانو، د مرافعې د ديوانونو رئيسانو، د ښاري محکمو رئيسانو، د ښاري محکمو د ديوانونو رئيسانو، د ولسواليو قاضيانو او د اختصاصي محکمو قاضيانو په کې برخه اخيستې وه، ګډون او وينا وکړه. د ارګ په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د سمينار ګډونوالو ته ...

۳مخ

## روسيې د افغانستان اسلامي امارت په رسميت وپېژانده

## مسکو کې د افغانستان سفارت پر ودانۍ د اسلامي امارت بيرغ پورته شو

**محمد سهيل شاهين:**

## ځينې نور هېوادونه به هم د روسيې د پرېکړې په تعقيب اسلامي امارت په رسميت وپېژني

د بهرنيو چارو وزير مولوي امير خان متقي په کابل کې د روسيې له سفير ديميتري ژيرنوف سره ليدنه وکړه.

د بهرنيو چارو وزارت وايي، چې په دې ليدنه کې ښاغلي ژيرنوف د روسيې حکومت هغه پرېکړه رسماً ابلاغ کړه چې پر بنسټ يې دغه هېواد د افغانستان اسلامي امارت په رسميت پېژني.

د روسيې سفير دغه پرېکړه د افغانستان او روسيې تر منځ د اړيکو د پياوړتيا لپاره يو تاريخي ګام وباله. ورته مهال د بهرنيو چارو وزير د روسيې د

دغې پرېکړې هرکلی وکړ او دا يې د دواړو هېوادونو تر منځ د مثبتو اړيکو، متقابل درناوي او رغېدونکي تعامل نوې مرحله وبلله. ښاغلي متقي وويل، چې د روسيې فدراسيون دغه واقعبينانه پرېکړه به د دواړو هېوادونو د اړيکو په تاريخ کې د يوه مهم پرمختګ په توګه ياده وي او د نورو هېوادونو لپاره د ورته اقدام په موخه يوه ښه بېلګه رامنځ ته کوي. دغه راز نوموړي زياته کړه، چې په دې اقدام سره به د دواړو هېوادونو ترمنځ دوه اړخيزې همکارۍ لا پراخې شي ...

۳مخ

**ملاعبدالغني برادر اخوند:**

## په افغانستان کې به د ټاپ پروژې چارې له ځنډ او ځنډ پرته پر مخ ولاړې شي

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ملاعبدالغني برادر اخوند اذربايجان کې د ايکو سازمان غونډې څنډه کې د ترکمنستان د لومړي وزير مرستيال او د بهرنيو چارو وزير رشيد مرادوف سره کتنه کې په ګډو مهمو اقتصادي موضوعاتو خبرې وکړې. اقتصادي معاونيت خبر ورکړ، چې دې کتنه کې ملاعبدالغني برادر اخوند ويلي: د اسلامي امارت له لوري د ټاپ پروژې د لارې نقشه وروستۍ شوې او پوره هڅه کوي چې افغانستان کې د يادې پروژې چارې له کوم ځنډ او ځنډ پرته پر مخ لاړې شي. ملاعبدالغني برادر اخوند ...

۳مخ

**د کورنيو چارو وزارت:**

## د عاشورا مراسمو لپاره کلک امنيتي تدابير نيول شوي

د کورنيو چارو وزارت وړمه ورځ ويلي، چې د عامه امن ځواکونو د عاشورا مذهبي ورځو په رانږدې کېدو سره، د کابل تکيه‌خانو او اړوندو سيمو کې کلک امنيتي تدابير نيولي. د مسئولينو په وينا: دغه تدابير د هېوادوالو د امنيت د ټينګښت، د احتمالي ګواښونو د مخنيوي او په ارامه فضا کې د عاشورا مراسمو د ترسره کېدلو په موخه نيول شوي.

د کورنيو چارو وزارت ويلي، چې د امنيتي طرحې پر بنسټ د کابل ښار بېلا بېلو ناحيو کې

يوشمېر تکيه‌خانې د عامه امن ځواکونو تر څارنې لاندې دي او ياد ځواکونه په ۲۴ ساعته توګه په دغو سيمو کې ځای پر ځای شوي دي. د عامه امن ځواکونه له هېوادوالو غواړي، چې د امنيت په ټينګښت کې له امنيتي ځواکونو سره همکاري وکړي او د شکمنو پېښو د ليدو پرمهال دوی ته سم له واره خبر ورکړي. د يادونې وړ ده چې د عاشورا مراسم هرکال د هېواد پلازمېنه او ولايتونو کې په ځانګړو امنيتي تدابيرو ترسره کېږي.

## چين د روسيې له خوا د اسلامي امارت د رسميت پېژندنې هرکلی وکړ

د چين د بهرنيو چارو وزارت د روسيې له‌خوا د اسلامي امارت د رسميت پېژندنې هرکلی کړی او ويلي يې دي،



چې دغه هېواد د افغانستان او نړيوالې ټولنې ترمنځ د اړيکو د لاپياوړتيا ملاتړ کوي. د دغه وزارت وياندې ماونينګ د خبريالانو د پوښتنو په ځواب کې څرګنده کړې، چين باور لري چې افغانستان بايد له نړيوالې ټولنې څخه جلا پاتې نه شي. نوموړې زياته کړې: د وضعيت څرګنګوالي ته له کتو پرته، د چين او افغانستان ډيپلوماتيکې اړيکې هيڅکله هم نه دي پرې شوي ...

۳مخ

## ننګرهار کې د برښنا د تنظيم لپاره د ۳۰ ميګاواره کپسيټور بانک د نصبولو پروژې پيل

په ننګرهار کې د برښنا ولتاژ د تنظيم، د انرژۍ د ضايعاتو د کنټرول او صنعتي شبکو ته د باثباته برښنا د برابرولو په موخه ننګرهار همېشه بهار سب سټيشن کې د ۳۰ ميګاواره کپسيټور بانک د نصبولو پروژې چارې پيل شوې.

په جوړو شويو مراسمو کې د افغانستان د برښنا شرکت اجرائيوي رئيس ډاکټر عبدالباري عمر وويل، چې ياده پروژه د شاوخوا ۶۰ ميليونو افغانيو په لګښت د ۸ مياشتو په موده کې پلې کېږي.

ورته مهال د ننګرهار مرستيال والي مولوي عزيزالله مصطفی وايي: اړوند مسئولين هڅه کوي چې د ننګرهار ولايت ګرمې هوا ته په کتو د برښنا ستونزې هوارې او خلکو ته په منظم ډول برښنا ورسوي.

د سيمې صنعتکاران هم دغه پروژه حياتي بولي او وايي، چې له کلونو راهيسې داسې پروژو ته په تمه دي. هېره دې نه وي چې پر دې سربېره هېواد کې له باد او سکرو څخه د برښنا ترلاسه کولو پر چارو هم ګړندۍ هڅې دوام لري.

**محمد نعيم:**

## اذربايجان سره اړيکې بايد لا پراخې شي

د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت مرستيال ډاکټر محمد نعيم د رياست الوزراء د اقتصادی مرستيال ملا عبدالغني برادر په مشرۍ د ګډ سفر په لړ کې د اذربايجان د بهرنيو چارو وزارت له مرستيال النور محمدوف سره وکتل.ياد وزارت په يوه خبرپاڼه



کې څرګنده کړې، چې په دې کتنه کې دواړو لوريو د دوه اړخيزو همکاريو ترڅنګ، پر يو شمېر نورو مهمو موضوعاتو مفصل بحث کړی دی. سرچينې زياته کړې، چې ښاغلي محمدوف د افغانستان د اسلامي امارت د سرتاسري امنيت ټينګښت، د نشه يي توکو پر ضد مبارزه او د اداري فساد د له منځه وړلو هڅې ستايلي او څرګنده کړې يې ده، چې اذربايجان له افغانستان سره اړيکو ته ځانګړې ارزښت ورکوي ...

۳مخ

## لوګر کې د غيرقانوني فعاليت له کبله ۶ موټر پلورنځي وتړل شول

د عدليې وزارت په لوګر ولايت کې د غيرقانوني فعاليت له کبله د ۶ موټر پلورنځيو د تړل کېدو خبر ورکړی دی.

سرچينې په يوه خبرپاڼه کې څرګنده کړې، چې د لوګر د معاملاتو لارښووني د دفترونو ګډ نظارتي پلاوي په دغه ولايت کې د موټر پلورنځيو له يو شمېر دفترونو څخه نظارت ترسره کړی دی. د خبرپاڼې د معلوماتو له مخې دغه نظارتي پلاوي، چې د لوګر ولايت د عدليې رياست، امنيه قوماندانۍ او مستوفيت استازي په کې شامل دي د يادو دفترونو د فعاليت جوازونه، د ثبت کتابونه، رسمي سټې او يو شمېر نور اړين اسناد بررسي کړل.ياد پلاوي د نظارت پر مهال ...

۳مخ

## ننګرهار کې څه باندې ۱۰۰ جريبه ځمکه امارتي تشخيص شوه

د عدليې وزارت په ننګرهار ولايت کې د څه باندې ۱۰۰ جريبه امارتي ځمکې د تشخيص خبر ورکړی دی. سرچينې په يوه خبرپاڼه کې ليکلي چې د ننګرهار د ځمکو له غصب څخه د مخنيوي تخنيکي هيئت په ناسته کې د ياد ولايت د کوټ

ولسوالۍ اړوند په تور راغه ساحه کې د ۱۰۹ جريبه ځمکې د دوسيې په اړه بحث شوی او په ترڅ کې يې ياده ځمکه امارتي تشخيص شوې ده. د خبرپاڼې د معلوماتو له مخې هيئت همدارنګه پرېکړه کړې، چې د يادې ځمکې دوسيه دې ...

۳مخ

# تغییر موازنه‌ها؛ روسیه صدای مشروعیت کابل را شنید

**رحمت الله فیضان**

در دیدار رسمی میان جناب مولوی امیرخان متقی، وزیر امور خارجه امارت اسلامی افغانستان و جناب دیمیتری ژیرنوف، سفیر فدراسیون روسیه در کابل، سفیر روسیه رسماً تصمیم دولت متبوع خود مبنی بر به رسمیت شناختن امارت اسلامی افغانستان را به دولت افغانستان اعلام نمود. سفیر فدراسیون روسیه، این اقدام را گامی تاریخی و سرنوشت‌ساز در مسیر تحکیم و تعمیق مناسبات دوجانبه میان دو کشور دانست و بر آمادگی کشور متبوعش جهت گسترش همکاری‌های همه‌جانبه با افغانستان تأکید ورزید. وزیر امور خارجه کشور با استقبال گرم از این تصمیم واقع‌بینانه و راهبردی، آن را نقطه آغاز فصل نوینی از روابط مبتنی بر احترام متقابل، حسن نیت و تعامل سازنده میان افغانستان و روسیه توصیف کرد. ایشان افزودند که این اقدام، نه‌تنها در تاریخ روابط دوجانبه یک تحول مهم و مثبت محسوب می‌شود، بلکه می‌تواند به‌عنوان الگوی الهام‌بخش برای سایر کشورها در مسیر تعامل مسئولانه و مستقل با دولت افغانستان قرار گیرد.

تصمیم فدراسیون روسیه به‌عنوان نخستین اقدام رسمی یک قدرت جهانی در جهت به رسمیت شناختن حاکمیت امارت اسلامی، دارای بار سیاسی و نمادین عمیقی است که می‌تواند سرآغاز موج تازه از تعاملات دیپلوماتیک، اقتصادی و فرهنگی با جامعه جهانی باشد.این تصمیم، فرصت‌های ارزنده‌ای را برای سرمایه‌گذاری مشترک، توسعه همکاری‌های زیربنایی و ارتقاء مناسبات اقتصادی فراهم می‌سازد؛ به‌ویژه در شرایطی که افغانستان در حال عبور از چالش‌های اقتصادی و در پی احیای زیرساخت‌های ملی خود می‌باشد.

از منظر ژئوپولیتیک، فدراسیون روسیه با اتخاذ این تصمیم هوشمندانه، نقش پیشگامانه‌ای را در نظم نوین منطقه‌ای ایفا کرده و زمینه‌ساز تقویت ثبات و امنیت پایدار در منطقه گردیده است. این اقدام، در عین حال که ممکن است با برداشت‌های متفاوت برخی قدرت‌های غربی مواجه شود، اما بیانگر شجاعت سیاسی و استقلال دیپلوماتیک کشوری است که مصالح راهبردی و واقع‌گرایانه را بر محاسبات مقطعی ترجیح داده است. در شرایط کنونی، نگاه جهانیان بیش از پیش متوجه این پرسش است که آیا سایر کشورها نیز در مسیر واقع‌گرایی سیاسی و تعامل محترمانه گام خواهند نهاد یا نه؟ آنچه مسلم است، تاریخ قضاوت خواهد کرد که چه کشورهایی پیشگام درک واقعیت‌ها و سازندگی روابط آینده‌محور بوده‌اند.

# صنعتي پراختیا د کار د زمینو برابرولو او د بشري ظرفیتونو د لوړولو بنسټ جوړوي

**محمد عظیم**

افغانستان چې د لسیزو جګړو، سیاسي شخړو او اقتصادي کمزورتیاوو له امله سخت زیانمن شوی، نن سبا د یوه نوي دور درشل ته رسېدلی دی. د اسلامي امارت له بیا حاکمیت وروسته، د هېواد د اقتصادي ودې، صنعتي پراختیا او ملي تولید د ودې لپاره بې‌ساري هڅې روانې دي. له تېرو کلونو راهیسې، د ځان‌بسیاینې، تولیدي ظرفیت لوړولو، د پانګوالو د ملاتړ او د وارداتو پر ځای د داخلي تولیداتو پالنې ته جدي پاملرنه شوې ده.

په دې لړ کې د هرات صنعتي ښارګوټي د پنځم فاز پرانیسته، یوازې یو ساده رسمي اقدام نه، بلکې د افغانستان د اقتصادي، اداري، ټولنیز او فکري تحول یو ژور ګام دی. دا پروژه د اسلامي امارت د اقتصادي لیدلوري او د خصوصي سکتور د پیاوړتیا څرګندویه ده، چې غواړي افغانستان له یوې وارداتي ټولنې څخه د یو تولیدي، صادرووونکي او صنعتي هېواد په لور بدلون ومومي. دغه فاز د پانګوالو د هڅونې، د تولید ظرفیت لوړولو، د بازارونو پراخولو او د بشري منابعو د ځواکمنولو لپاره نوې دروازې پرانیزي.

دا اقدام، نه یوازې د ملي اقتصاد لپاره حیاتي دی، بلکې دا پیغام هم لري، چې افغانستان کولی شي د سیمې په اقتصادي رقابت کې اغېزناک حضور ولري، خو یوازې هغه مهال چې د ټولو افغانانو ګډ مسئولیت، همکاري او باور ورسره مل وي.

د اسلامي امارت تر مشرۍ لاندې، افغانستان اوس د داسې اقتصادي پالیسیو د عملي کولو پر لور روان دی، چې نه یوازې د ځان‌بسیاینې، بلکې د ملي استقلال، صنعتي پراختیا، د کار زمینو برابرولو او د بشري ظرفیتونو د لوړولو اساس جوړوي. له دې ټولو اقداماتو څخه، د هرات په صنعتي ښارګوټي کې د پنځم فاز پرانیستل یو مهم، عملي ګام دی. د ریاست الوزراء د اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي له خوا د دغه فاز پرانیسته او د څلورم فاز د ځمکو د ملکیت اسنادو وېش، د دولت له خوا د پانګوالو، صنعت‌پالانو او خصوصي سکتور پر وړاندې د ژمنتیا او باور ښکاره نښه ده. دا اقدام دا څرګندوي، چې حکومت غواړي د تولید بنسټونه پراخ کړي، د پانګونې فضا پراخه کړي او د اداري اصلاحاتو له لارې د خصوصي سکتور په ملاتړ هېواد ته دوامداره اقتصادي ثبات راولي.

په دې مراسمو کې ښاغلي حنفي ټینګار وکړ، چې باید د داخلي تولیداتو کیفیت لوړ شي. د کیفیت لوړول یوازینی تضمین دی، چې د کورنیو محصولاتو بازار پراخوي، د مصرفوونکو اعتماد ترلاسه کوي او وارداتو ته اړتیا کموي. هغه بې کیفیته واردات یا تولیدات، چې د مصرفوونکو له اعتماد سره ټکر کوي، باید د قانون له مخې تعقیب شي. دا دریځ د کیفیت کلتور ته نوې وده ورکوي. د دغه فاز پرانیسته یوازې اقتصادي معنا نه لري، بلکې د ملي یووالي، د خصوصي سکتور د ودې او د ټولنې د اقتصادي عدالت لپاره هم یوه نښه ده. د مراسمو پر مهال، مولوي عبدالسلام حنفي له شتمنو او تاجرانو غوښتنه وکړه، چې له راستنو شویو افغانانو سره مرسته وکړي. دا غوښتنه، اقتصادي پرمختګ ته د انساني بعد د ورګډولو هڅه ده، چې د اسلامي اصولو له مخې، د شتمنو مسئولیت هم تعریفوي.په عین حال کې، د هرات پوهنتون د انجنیري پوهنځي د محصلینو نندارتون ته ارزښت ورکول، دا ښیي، چې حکومت غواړي د علم، صنعت او نوښت ترمنځ اړیکه ټینګه کړي. دا ډول نندارتونونه محصلینو ته دا فرصت ورکوي، چې خپل استعدادونه، ابتکارات او علمي لاسته راوړنې وړاندې کړي. دا کار، د عملي تجربو پراختیا، د فکري استقلال وده او د تولیدي فکر بنسټیز ملاتړ دی. افغانستان د دې ستراتیژیکي موقعیت له امله، یو مهم اقتصادي پټ پتانسیل لري. د صنعتي ښارګوټو پراخولو له لارې، کولای شي نه یوازې د داخلي اړتیاوو د پوره کولو، بلکې د صادراتو د زیاتوالي له لارې سیمه‌ییزو بازارونو ته هم لاسرسی ومومي. د پانګوالو لپاره قانوني ضمانتونه، اداري اسانتیاوې، د مالیاتو شفافیت او د تولید لپاره مناسب چاپېریال، هغه اساسي موارد دي چې اسلامي امارت یې هدف ګرځولی دی.په ورته وخت کې، صنعتي پراختیا د کار زمینې هم زیاتوي. هره صنعتي فابریکه لسګونو او سلګونو ځوانانو ته د کار زمینه برابروي. دا نه یوازې د بېکارۍ کچې کمښت ته لاره هواروي، بلکې له هېواد څخه د مغزونو د تېښتې مخه هم نیسي. که زموږ ځوانان د خپل مسلک او تخصص مطابق د کار زمینه ترلاسه کړي، نو هېڅکله به له هېواده و نه تښتي، بلکې دلته به کار، تولید او خدمت ته دوام ورکړي. د هرات صنعتي ښارګوټي د پنځم فاز ځانګړنه دا ده، چې د نوې ټکنالوژۍ، پرمختللو فابریکو، د مدیریت عصري سیستمونو او د بازار موندنې واضحو موخو ته متوجه شوی دی. دا د اسلامي امارت د هغو لیدلورو یوه برخه ده، چې غواړي افغانستان د تولید، نوښت او صادراتو یوه قوي نقطه وګرځي. د هرات صنعتي ښارګوټي د پنځم فاز پرانیسته، یوازې یو تشریفاتي حرکت نه دی، بلکې دا د افغانستان د نوي اقتصادي مسیر یو مهم دریځ دی. دا هغه عمل دی، چې د اسلامي امارت اقتصادي ستراتېژي، د پانګوالو د ملاتړ ژمنتیا، د اداري اصلاحاتو ژورتیا او د تولیدي سکتور پیاوړتیا په کې یوځای شوې ده. افغانستان که د خپلو ځوانانو، متخصصینو، پانګوالو او چارواکو ترمنځ یو موټی، مسئولانه او همغږې عمل رامنځته کړي، نو کولای شي د صنعتي خپلواکۍ په لور چټک ګامونه واخلي. د داخلي تولیداتو لوړ کیفیت، د بازارونو پراخوالی، د صادراتو وده او د بشري منابعو ځواکمنول هغه بنسټونه دي چې افغانستان یې د یوه صنعتي هېواد په توګه راښکاره کوي.

اوس وخت د دې دی، چې ټول ملت، له عادي وګړي نیولې تر پانګوال، استاد، محصل، تاجر او چارواکي، خپل مسئولیت ادا کړي، د تولید کلتور ته وده ورکړي او د افغانستان اقتصادي استقلال ته اوږه ورکړي. که دا بهیر په همدې ډول دوام وکړي، نو لرې نه ده، چې افغانستان به د سیمې یو مهم صنعتي مرکز وګرځي، چې نه یوازې خپلو اړتیاوو ته به ځواب ووایي، بلکې د نورو ملتونو لپاره به هم د کیفیت، تولید او صادرولو الګو شي.

# «ان. پی. تی» چیست و چه وظیفه دارد؟؟؟

**روان**

«ان. پی. تی» معاهده بین المللی است که برای جلوگیری از توسعه اسلحه هسته‌یی، تشویق و ترغیب کشورهای دارای سلاح هسته یی برای خلع سلاح هسته یی و ترویج استفاده صلح آمیز انرژی هسته یی زیر پوشش ملل‌متحد ایجاد گردیده و در سال ۱۹۶۸ بین کشورهای درگیر جنگ سرد، تصویب شده و به امضا رسیده و از سال ۱۹۷۰ میلادی به این سو لازم الاجراء شمرده شده و ۱۹۰ کشور جهان آن را تأیید کرده و اعضای این معاهده‌اند.

اهداف ان. پی. تی:

از آنجایی که این معاهده در نزدیک زمان دو جنگ جهانی تصویب و لازم الاجراء اعلان شد و همه مردم جهان، خاطرات خیلی بدی از این دو جنگ داشتند، که روح و روان بشریت را تهدید کرده و بزرگترین ضربه بر حقوق انسان، حیوان و نبات زمین وارد آورده بود، در سطح کل جهان از تصویب چنین معاهده تقدیر به عمل آوردند و با اشتیاق کامل آن را امضا کردند و سه هدف به عنوان اهداف عمده این معاهده اعلام گردید که عبارتند از :

_ عدم اشاعه سلاح ذروی،

_ خلع سلاح اسلحه ذروی،

_و استفاده صلح آمیز برای کشورهای دیگر،

اما اگر به تاریخ گذشته این پروسه و اهداف معاهده دقیق شویم می‌بینیم که ۵ کشور بزرگ جهان که معاهده مذکور را تصویب و امضا کرده‌اند، به عنوان اولین تخطی کاران مندرجات معاهده مذکور ثبت و راجستر شده اند و جالبتر هم اینکه همین کشورها (آمریکا، روسیه فرانسه، بریتانیا و چین) اعضای دائمی شورای امنیت ملل متحد هم هستند، که فعلاً هر کدام آن به صدها بمب هسته یی دارند و هیچ کسی هم نمی گوید که این کشور ها برای ساخت وساز بمب‌های هسته یی از کدام مرجع بین‌المللی جواز گرفتند که دیگران نباید این صلاحیت را داشته باشند و چه تضمینی وجود دارد که این کشورها برای آدم کشی از این بمب‌ها استفاده نمی کنند، در حالي که همسن کشورها بزرگترین تاجران اسلحه در جهان اند و خود آمریکا نخستین کشوری بود که در جنگ جهانی بمب اتم را بالای جاپان استعمال کرد و اگر با وجود این تخطی صریح و مشهود هم قبول کنیم که این کشورها برای آدم کشی از آن استفاده نمی کنند و آنرا بر دیگر کشورها نمی فروشند، پس برای چه این وسایل خطرناک را ساخته‌اند و برای چه میلیاردها دلار سرمایه‌های مردم و خزائن ملی را صرف آن کرده اند؟؟

اگر یک کسی خودش تمام انواع مواد مخدر را مصرف می کند و بعد سر ستیج بیاید و برای مردم بگوید:آهای مردم! مواد مخدر خیلی خطرناک اند، حیات انسان را قبل از وقت آن به پایان می برد و موجب هزاران جرم و جنایات بشری می گردند و...، پس با خبر که از این مواد استعمال نکنید و هر کسی از شما که به استعمال آن رو آورد، به زودترین وقت از همه حقوق بشری و مدنی محروم می گردد و....

در این صورت هر کس می‌داند که این آدم هدف دیگری غیر از جلوگیری از اضرار و مصیبت‌های مواد مخدر دارد. زیرا اگر به راستی هم او از روی دلسوزی برای مردم این گپ‌ها را زمزمه می کرد و به جلوگیری از ترویج و اشاعه آن صادق می‌بود یا باشد، اولاً خودش آن را ترک کرده، بعد به دیگران توصیه میکرد، مبنی بر اینکه من چند سال به این مواد مخدر و کاروبار تجارت و پروسس و ترافیک آن اعتیاد داشتم، اما بنابر مصالح خود و مصالح تمام جامعه و جلوگیری از اضرار آن، آن را ترک کردم و شما هم باید آن را ترک کنید، در چنین حالت مردم هم باور می کردند و سخنش در بین مردم جا می گرفت و از مصیبت بزرگ جلوگیری می‌شد.

پروسه منع تولید و اشاعه سلاح هسته‌یی امروز هم درست شبیه این مثال است که اگر واقعاً کشورهای بزرگ به خلع سلاح صادقانه می‌اندیشند، بیایند همین ۵ کشور اعضای دائمی شورای امنیت ملل متحد به عنوان پیش قراولان در این میدان وارد شوند و تولید سلاح‌های هسته‌یي خود را اولاً کم کنند و بعد اگر واقعاً حقوق بشر و صلح جهانی و جلوگیری از رقابت‌های سلاح هسته‌یی برای شان مهم است، برای از بین بردن آن پروگرام بگیرند و این کار را خود شان شروع کنند و بقیه کشورها را به دنبال خود بکشانند و این بزرگترین خطر را از روی زمین بردارند و آنگاه اگر هر کسی و یا هر کشوری هم به تولید و یا فروش این سلاح مرگبار دست یازیدند از همه امکانات خود علیه آن اقدام کنند و بدون شک که همه کشورها هم از این کار آنان تقدیر خواهند نمود و هیچ کسی به آن مخالفت نخواهد کرد و اگر این کار را هم نمی کنند، بدانند که این توصیه‌های میان خالی آنان و اعمال تحریم‌ها بالای مردم کشورهای دیگر وضعیت جهان را با گذشت هر روز و هفته و ماه و سال بدتر خواهد کرد و کشورهای دیگر هم به تقلید از همین کشورهای بزرگ به رقابت خطرناک این اسلحه کشتار جمعی کمر بسته خواهند کرد و کل جهان را به جنگ ذروی و اتومی خطرناک سوق خواهند داد و در آینده مورد قضاوت سخت تاریخ قرار خواهند گرفت و بزرگترین فاجعه را به بار خواهد آورد. زیرا حالا تعدادی از کشورهای دیگر هم وارد این بازار رقابت شدند، از جمله هند و پاکستان و کوریای شمالی و اسرائیل که در جوار هر کدام این کشورها تنش‌های بالفعل هم موجود است و با اندکترین غفلت، وارد رینگ یک جنگ خطرناک خواهند شد. که کنترول آن برای هیچ کسی هم ممکن نخواهد بود.

در جنگ اخیر ایران و اسرائیل و حماس و اسرائیل دیدیم که راکت‌ها و موشک‌های دوربرد اطراف جنگی تخریب‌های هولناکی را به بار آوردند که سالیان دراز به بازسازی آن تخریبات قادر نخواهند شد و گپ دیگر و پایانی هم اینکه بزرگان اداره ملل متحد هم چنانکه لازم است، فعالیت ندارند و در بسیاری از همچون قضایا جانبدارانه و یا هم کاملاً غیر موثر موقف گیری می کنند و این واقعیت غیر قابل انکار موجب آن شده که روز به روز اعتبار و اعتماد این اداره از بین برود و به سرنوشت جامعه ملل قبل از تشکیل ملل متحد گرفتار شود. زیرا کاربرد خودسرانه اسلحه از سوی یک کشور علیه کشور دیگر به ذات خود یک عمل ضد منشور ملل متحد است که در همین چند سال به تکرار انجام شد و اداره ملل متحد در برابر آن ضعیف عمل می کند، که پاسخگوی هیچ معضله ای هم شده نمی‌توانند و در دیدگاه‌های خیلی ها می‌بینیم که این اداره را دنباله رو سیاست‌های کشورهای کلان و یا هم خیلی سست وغیر پاسخگو به مشکلات می‌دانند.

## سرلیکنه

# روسیې دا وښوده چې د اسلامي امارت واقعیت د منلو دی!

افغانستان له څو لسیزو جګړو، بهرنیو لاسوهنو او نړیوالې سیاسي انزوا وروسته، د یوه نوي، متوازن، اقتصادي او ملي‌محوره سیاست په لور روان دی. د اسلامي امارت له بیا حاکمیت وروسته، نړیوال رسمیت او متقابل تعامل هغه مهم اړخونه بلل کېږي، چې د هېواد د سیاسي ثبات، اقتصادي پراختیا او نړیوال مشروعیت لپاره حیاتي رول لري. د روسیې له خوا د افغانستان د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه، د نړیوالو اړیکو په ډګر کې یو مهم ګام دی، ځکه چې روسیه د نړۍ له سترو سیاسي قطبونو څخه شمېرل کېږي او دا چې دغه هېواد د افغانستان د اسلامي امارت رسمیت په رسمي توګه اعلان کړ، نه یوازې د نړیوالې انزوا د ماتولو پیل دی، بلکې د سیاسي مشروعیت، اقتصادي همکاریو او متقابل باور د پیاوړتیا لاره هم اواروي. د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر او ګڼو لوړپوړو چارواکو پر دې پرېکړې خوښي ښودلې او دا یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د رغنده تعامل نوی فصل ګڼلی. په مسکو کې د افغان سفارت پر ودانۍ د اسلامي امارت د بیرغ پورته کېدل، دا ښیي، چې اسلامي امارت یوازې یو داخلي نظام نه، بلکې یو مشروع، پېژندل شوی او پر خپلواکو تصمیمونو ولاړ اسلامي نظام دی. دا همداراز نورو هېوادونو ته دا پیغام ورکوي، چې د اسلامي امارت واقعیت باید د تعامل پر بنسټ درک شي، نه د انکار پر اساس. دا رسمیت به له شک پرته د افغانستان اقتصاد ته هم تازه سا او ګړندیتوب ورکړي. د اسلامي امارت تر سیوري لاندې د سړکونو، بندونو، فابریکو، کرنې، انرژۍ او پانګونې په برخو کې پرمختګونه د دې وړ دي چې نړیوال پانګوال ورسره همکاري وکړي. د روسیې له لوري رسمي تعامل دا فضا لا اسانه کوي.

همداراز، دا ګام د نړیوالو لپاره یو اخلاقي پیغام هم لري، هغه دا چې یو ملت که د خپلو دیني، فرهنګي او ملي ارزښتونو پر بنسټ یو خپلواک حکومت جوړ کړي، باید ویې نه بایلي، بلکې باید ومنل شي او درناوی یې وشي.

اسلامي امارت، چې پر داخلي ثبات، د فساد پر ضد مبارزې، د خلپسریو پر مخنیوی او د قانون پر حاکمیت تمرکز لري، اوس د دې جوګه دی، چې د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره مساوي، مسئول او عزتمند تعامل ولري. د روسیې دغې پرېکړې دا حقیقت نور هم روښانه کړ.

افغان ولس او حکومت ته پکار ده، چې له دې تاریخي فرصت څخه اعظمي ګټه واخلي، له نړۍ سره په اسلامي او ملي ارزښتونو د خپل هېواد د ګټو په نظر کې نیولو سره مثبت تعامل ته دوام ورکړي او افغانستان په حقیقت کې د یو باعزته، اسلامي او اقتصادي ځواک په توګه وړاندې کړي.

ټولو هغو کسانو، چې د اسلامي امارت د انزوا لپاره یې کار کاوه، نن باید حقیقتونه درک کړي او د اسلامي امارت تر چتر لاندې په ملي او نړیواله کچه افغانستان او افغان ملت ته کار وکړي.

---

**د مولوي نور جلال جلالي ...**

ناروغانو لپاره د ویزې اسانتیاوو د برابرولو او یو شمېر نورو موضوعاتو په اړه خبرې شوې دي. مولوي نور جلال جلالي د روغتیا په برخه کې د ترکیې له تلپاتې مرستو مننه کړې او دغه مرستې یې د افغانستان د روغتیا سکتور لپاره ګټورې بللې دي.

**فراه؛ د عیدګاه جامع ...**

جومات کې د پاکو اوبو د یوې ژورې څا د کیندلو چارې به هم ډېر ژر پیل شي، څو د جومات لمونځ کوونکو ته لا زیاتې اسانتیاوې برابرې شي.

د یادونې وړ ده، چې د اسلامي امارت د واکمنۍ له پیل راهیسې، په فراه ولایت کې ګڼ شمېر جوماتونه جوړ او بیارغول شوي دي.

**بغلان؛ د غوري سمنټو ...**

په کارولو سره د ملي تولید ملاتړ وکړي او د دې ملي شتمنۍ اقتصادي پیاوړتیا کې ونډه واخلي. د یادونې وړ ده، چې اوس په یاد ولایت کې دوه فابریکې فعالې دي او ټاکل شوې ده، چې د درېیمې فابریکې د جوړولو چارې به هم ډېر ژر پیل شي.

**له پاکستان او ایران څخه ...**

په ۱۱ مه نېټه د تورخم له لارې ۱۲۶ کورنۍ هېواد ته راستنې او د نوموړو کورنیو ۶۳۶ تنه غړي، ثبت او بایومتریک شوي دي. د سرچینې د معلوماتو له مخې؛ په تورخم کې له ۱۴۴ کورنیو سره یو میلیون ۱۵۶ زره افغانۍ مرسته شوې او همدارنګه ۱۱۵ کورنۍ، چې د غړو شمېر یې ۵۹۱ تنه وو، خپلو ولایتونو ته انتقال او ۴۴۸ زره افغانۍ کرایه هم ورکړ شوې ده. د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسیون په خبرپاڼه کې راغلي، چې د چنګاښ میاشتې په ۱۱مه نېټه له ایران څخه د نیمروز ولایت د ورېښمو له لارې ۱۱۳۰ کورنۍ، چې د غړو شمېر یې ۵ زره ۶۵۵ تنه وو، هېواد ته راستنې او ثبت شوې دي او هلته له ۱۱۱۱ کورنیو سره ۹ میلیونه ۳۸۴ زره افغانۍ مرسته هم شوې ده. له دغې لارې څخه ۵۵۳ مسافر هم خپل هېواد ته راستانه شوي دي. په خبرپاڼه کې راغلي، چې په یاده نېټه د هرات ولایت د اسلام کلا له لارې ۳۸۵۰ کورنۍ، چې د غړو شمېر یې ۱۳ زره ۸۴۳ تنه وو، هېواد ته راستنې او ثبت شوي دي او هلته له ۳۴۳۱ کورنیو سره ۲۸ میلیونه ۶۰۸ زره افغانۍ مرسته شوې ده. ورمه ورځ همدارنګه له کابل څخه۱۶۸ کورنۍ، چې د غړو شمېر یې ۸۶۰ تنه و، خپلو ولایتونو ته لېږدول شوي دي او یادو کورنیو ته ۳۷۲ زره ۵۰۰ افغانۍ کرایه هم ورکړ شوې ده. د یادونې وړ ده، چې راستنو شویو کورنیو ته د دغه کمېسیون د اطلاعاتو او عامه پوهاوي هیئت له لوري د دوی د ثبت، لېږد، مالي مرستو، لنډ مهالې مېشتېدنې او همدارنګه د هېواد، اسلامي نظام، مهاجرت، صبر او زغم، ښوونې او روزنې په اړه ګټور پوهاوی ورکړ شوی دی او ټول ټال ورته ۱۵۵۳ سیمکارتونه هم وېشل شوي دي.

# افغان اعلانات

**اطلاعیه مفقودی**

یک قطعه جواز دارای نمبر ۵۹۴۱۳ مربوط کلینیک بهارستان صدیقی مفقود گردیده از اعتبارساقط می باشد.۲

**اطلاعیه مفقودی**

یک قطعه جواز وکالت دفاع شماره ۲۸۸۶ مورخ ۱۳۹۴/۳/۲۶ مربوط محترم محمد سلیم عزیزی فرزند عزیز الله که شماره متذکره نیز درج آن میباشد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشند.۲۲۰۰

**اطلاعیه مفقودی**

یک قطعه مکتوب گمرکی موتر دارای نمبر ۲۹۶۹۷ به اسم ثنا الحق صافی فرزند محمد یونس صافی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۸۰

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم قدرت الله ایوبی فرزند محمد ایوب مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۰۸

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نجیب الله حبیبی فرزند محمد سعید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۰۹

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد عباسی فرزند عبدالصبور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۱۰

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شیرزی شریفی فرزند عبدالجلیل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۲۹۱

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احمد شاه ولی زاده فرزند ضیاء احمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۱۱

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالغفار نیکویی فرزند عبدالسلام مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۱۲

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سلسله نیکویی بنت عبدالغفار مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۱۳

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احمد الله غوثی فرزند گل ملا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۱۴

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احمد الله غوثی فرزند گل ملا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۱۴

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سپین غر حنیفی فرزند محمد آصف مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۰۱

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم جمعه خان سلیمان خیل فرزند آدم خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۱۸۶

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم غلام یعقوبی فرزند محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۱۹۰

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم لیلما قربانی بنت محمد امین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۶۴

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مهدی قربانی فرزند محمد نبی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۶۵

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ساحل خان فرزند منصور خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۱۶

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سهیل خان فرزند منصور خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۱۷

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سلیمان خان فرزند منصور خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۱۸

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حسین محمدی فرزند قربان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳۹۴

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شکر الله هوتک فرزند سمیع الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۱۸۰

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم گل زرینه افغان بنت حاجی درویزه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۱۸۱

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شیر گل کاکر فرزند غلام مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۱۸۲

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم اسلام الدین فرزند ولی محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۱۸۳

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احمد جامی فرزند محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۱۸۴

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نیاز مومند فرزند محمد اکبر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۶۹

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید انور حسینی فرزند شاهنشاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۶۲

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سلیمان احمدی فرزند محمد عمر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۶۱

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم طیبه ایماق بنت محمد سرور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۶۳

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالغفار قمبری فرزند محمد شاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۶۴

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد الله حکیم فرزند محمد امین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۶۵

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد روزی اچکزی فرزند محمد رحیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۳۶۰

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم هاشم احمدزی فرزند عجب گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۶۶

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالحمید صافی فرزند فضل الرحمن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۵۳

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم لیلا خواجه عباسی بنت خواجه محمد اعظم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۸۵

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم میرام شاه حمیدی فرزند حضرت گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۵۴

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محبوب حسن فرزند حسن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۵۵

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم امید الله حیدری فرزند برات علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۵۶

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد ضیا حسینی فرزند محمد طاهر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۵۷

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عمر فرزند اکبر الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۵۸

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم جمشید اکبری فرزند سید آغا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۵۹

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم میلاد حسین موسوی فرزند سید ابراهیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۶۰

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم جیلان تیموری فرزند عبدالغنی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۲۸

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فیروزه یوسف زی فرزند محمد داود مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۲۲۹

**اطلاعیه فروش موتر**

اسامی محترم محمد حکیم فرزند شهزاده یک عراده موتر پلیت ۴۱۹۹۲-۶ ش کابل نوع لندکروزر خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمد نعیم فرزند منگل خان بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۹

**اطلاعیه فروش موتر**

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۷۹۸۳۷-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای ضیا الرحمن فرزند حبیب الرحمن بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۲۱۹۲

**دعوت به داوطلبی روش باز ملی»**

شماره دعوت به داوطلبی

: M AIL/1404/NCB/G – 1694

ریاست تهیه و تدارکات وزارت زراعت ، آبیاری و مالداری از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی پروژه { خریداری هفده قلم تجهیزات مواد مصرفی لابراتوار تولید سپرم منجمد ولایت بلخ }تحت داوطلبی باز داخلی با شماره تشخیصیه {M AIL/1404/NCB/G – 1694} اشتراک نموده و آفرهای سربسته خویش را مطابق شرایط شرطنامه طبق قانون و طرزالعمل تدارکات عامه الی ساعت{۱۰:۰۰} قبل از ظهر روز سه شنبه مؤرخ {۷-۵-۱۴۰۴ هجری شمسی} ارائه نمایند،آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشند. تضمین آفر مبلغ(٦٤٥٠٠) شصت و چهار هزار و پنجصد افغانی به شکل (بانک گرنتی) طبق شرطنامه و شرایط اهلیت (طبق ماده ۱۷ قانون تدارکات عامه) میباشد.

آدرس مکان جلسه : منزل دوم تعمیر ریاست تهیه وتدارکات و ریاست مالی و حسابی، دفتر آفرگشایی. داوطلبان میتوانند اسناد مکمل داوطلبی را از سیستم الکترونیکی AGEOPS.AF داونلود نمایند،در صورت عدم داونلود از ویب سایت، داوطلبان می توانند شرطنامه را در سی دی یا فلش دیسک ازآمریت تدارکات اجناس وخدمات غیر مشورتی ریاست تهیه وتدارکات واقع تعمیر ریاست مالی و حسابی و تهیه و تدارکات منزل اول بصورت رایگان بدست آورند

**اطلاعیه تصمیم اعطای قرار داد**

بدینوسیله به تاسی از فقره ۲ ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود ، آمریت شفاخانه صد بستر طفل و مادر در نظر دارد ، تا قرار داد تهیه و تدارک ۱ قلم اکسیجن تحت رفریشن نمبر ( MOAH/PHCD/KUNDZMOPH/KRH/NCB/1404/GO2 ) می باشد را به شرکت خدمات لوژستیکی رضوان شهرام دارنده جواز ( 01-D-1312) آدرس ولایت جوزجان به قیمت مجموعی مبلغ ( 5390000 ) پنجاه سه لک نود هزار افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند ، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به آمریت شفاخانه طفل و مادر شفاخانه سپین زر سابقه ،وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند.۱۷۸۸۹

**اطلاعیه لیلام**

موسسه ( BGK) مورخ ۱۴۰۴/۴/۲۱ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر یک عراده موتر پیکپ را با مشخصات ذیل به لیلام میگذارد. محل لیلام شریق چمن حضوری پهلوی هوتل عروسی ستار شب/ کابل / افغانستان.

مشخصات موتر:

| اسم واسطه | نوعیت واسطه | مودل اسطه | رنگ واسطه | نمبر پلیت |
|---|---|---|---|---|
| پیکپ | نیسان دو سیته | ۲۰۰۴ | سفید خط دار | ۶۶۲۱۱- ۲ |

۲۱۹۵

## موضوع: نشر تمدید اعلان پروژه جست ساحه بابر ولسوالی شیخ علی ولایت پروان!

وزارت معادن و پترولیم قرارداد یک پروژه معدن کاری مقیاس کوچک را که مشخصات آنها ضم جدول میباشد، غرض جلب علاقه مندان به اعلان میسپارد. علاقه مندان میتوانند اعتبار از تاریخ ۱۴۰۴/۰۴/۱۱ الی ۱۴۰۴/۰۴/۲۱ ه ش درخواست های شان را به ریاست عمومی کادستر و تنظیم منرالها تسلیم نموده، اسناد لازم را بعد از تحویلی پول شرطنامه (پول غیر قابل برگشت) بدست آورند.

جدول مشخصات ساحه معدنی به مقیاس کوچک

تاریخ اعلان 11/4/1404 هـ ش تاریخ ختم اعلان 21/4/1404 هـ ش

| شماره | ولایت | ولسوالی | نام ساحه | نوع مواد معدنی | مساحت (Km²) | کوردینات N-Latitude S | N-Latitude M | N-Latitude D | E-Longitude S | E-Longitude M | E-Longitude D |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | پروان | شیخ علی | بابر | جست | 0.187656 کیلومتر مربع | 24.900 | 0 | 35 | 13.860 | 36 | 68 |
| | | | | | | 12.650 | 0 | 35 | 7.980 | 36 | 68 |
| | | | | | | 18.800 | 0 | 35 | 49.460 | 35 | 68 |
| | | | | | | 29.110 | 0 | 35 | 55.020 | 35 | 68 |

ترتیب کننده: ریاست تنظیم قرادادهای معادن کوچک

منظور کننده: ریاست عمومی کادستر و تنظیم منرالها

**عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) ...**

لازم هدایات او مهمې توصیې وکړې، د ټولو مسئولینو د خدمتونو ستاینه يې وکړه او د سمینار ګډونوالو ته يې د قضاء د حکمت، حکم، اهمیت، شرف او اثبات په اړه د قرآن کریم او سنتو په رڼا کې تفصیلي وینا وکړه او ویې ویل، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله قضاء کوله، د شریعت احکام يې بیانول، فیصلې يې تنفیذ کولې او حدود يې نافذول.عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) زیاته کړه: ((قضاء په اسلامي نظام کې مهم رکن دی، په محاکمو سره د خلکو نفس، مال او عزت ساتل کېږي او د عدل د قضاء په نیت یو ساعت کښیناستل، الله تعالی جل جلاله د یوه کال د عبادت ثواب ورکوي، په قضاء سره فتنې او فسادونه له منځه ځي، عدالت قایمېږي، د اسلامي نظام بقا په عدالت سره راځي او د محاکمو تقویه د نظام تقویه ده.))

ده ویلي، چې که قضاء نه وي ظالم به ظلم کوي او د مظلوم غږ به څوک نه اوري او فسادونه، فتنې او بد اخلاقي به د ځمکې پرمخ رواج پیداکړي. عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د قاضیانو په اړه ویلي دي: ((الله تعالی د ځمکې پر سر د خلکو د اخلاقي او عملي اصلاح لپاره قاضیان مقرر کړي دي، هغه قاضي چې په عدل سره قضاء کوي، الله پاک ته ډېر خوښ دی او په آخرت کې يې ځای جنت دی، په اسلامي نظام کې قاضي د امام وکیل دی او د امام له خوا ورته منشور او اصول ورکول کېږي، قاضي صاحبان په اسلامي نظام کې لوی مسئولیت لري، تر څو په عدل سره په قضاء کولو د خلکو اعتماد پر اسلامي نظام ټینګ شي او د خلکو حقوق خوندي شي.)) ده څرګنده کړه: ((دا د الله تعالی احسان دی چې د اسلامي او شرعي نظام د تطبیق لپاره يې زمینه برابره کړې ده، په اوس زمانه کې دین، اسلام او شریعت راپورته کول زغم، صبر او استقامت غواړي او علماء کرام او قاضي صاحبان دې دین، اسلام او شریعت په عملي کولو سره خلکو او دنیا ته ښکاره کړي.))

ده زیاته کړه: د جهاد د اهدافو په عملي کولو کې لوی رول د محاکمو دی او محاکم به دین او د اسلام احیا کوي او اسلامي عقیدې، د شریعت تنفیذ او اسلامي اخلاقو ته به رواج ورکوي او ټول نظام د محاکمو تر شا ولاړ دی. عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د خپلې وینا په پای کې، قاضیانو ته په تقوا، تواضع، عاجزۍ او د خلکو ترمنځ په عدل کولو سره مهمې لارښوونې وکړې او زیاته کړې يې ده: (( په قضاء کې یوازې د الله تعالی رضا مقصود وګرځوئ، په عدل قضاء کولو سره د خلکو د هدایت ذریعه جوړ شئ، قاضي که په عدالت ودرېږي، الله تعالی به يې نصرت وکړي، د خپلو ترسره شویو قضایاوو او تجربو اړوند کتابونه او رسالې ولیکئ او نشر يې کړئ، تر څو راتلونکي قاضي صاحبان ستاسو له تجربو څخه ګټه واخلي او ځوان قاضي صاحبان دې له سپین ږیرو علماوو او قاضي صاحبانو سره ناسته کوي او د هغو له تجربو څخه دې ګټه واخلي، کوښښ وکړئ په قضاء کې علماء او نوی نسل و روزئ، په قضایي امورو کې یو له بل سره تذکیر او مذاکرې کوئ، د خپلو بندیانو خاص خیال وکړئ، بې سرنوشته بندي په محبس کې مه پرېږدئ، د مدعي او مدعي علیه ترمنځ مساوات وکړئ، په فیصله کې د چا مراعات مه کوئ او له ټولو ادارو سره همکاري وکړئ.))

**روسیې د افغانستان ...**

دغه راز: د روسیې له خوا د افغانستان اسلامي امارت له رسمیت پېژندنې سره هممهاله مسکو کې د افغانستان سفارت پر ودانۍ د اسلامي امارت بیرغ پورته شو. دا په داسې حال کې ده، چې روسیې په یوه لوی اقدام کې د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپېژنده.په کابل کې د روسیې سفیر دیمیتري ژیرنوف ویلي، چې دا پرېکړه د روسیې د بهرنیو چارو د وزیر سرګي لاوروف د وړاندیز او د ولسمشر ولادیمیر پوتین د پرېکړې پر بنسټ شوې ده. د ژیرنوف په وینا، د روسیې دا ګام ښیي چې مسکو غواړي له اسلامي امارت سره خپلې اړیکې پراخې کړي. په همدې حال کې د اسلامي امارت ویاند مولوي ذبیح‌الله مجاهد د روسیې له‌خوا د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې هرکلی کړی او له نورو هېوادونو يې هم غوښتي، چې ورته ګام واخلي. دغه‌راز د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي دغه ګام د افغانستان او روسیې ترمنځ د سیاسي، اقتصادي او ډیپلوماتیکو اړیکو د پراختیا لپاره مهم او مثبت بللی.

همدارنګه : قطر کې د اسلامي امارت سفیر محمد سهیل شاهین له یوې روسي رسنۍ سره په مرکه کې ویلي، چې ځینې نور هېوادونه به هم د روسیې د پرېکړې په تعقیب اسلامي امارت په رسمیت وپېژني. نوموړي زیاته کړې: ((ښایي په راتلونکو اوونیو یا میاشتو کې ښه خبرونه واورو.)) دا په داسې حال کې ده ، چې روسیې وړمه ورځ په یوه لوی اقدام کې د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپېژنده او په مسکو کې د افغانستان د سفارت پر ودانۍ د اسلامي امارت رسمي بیرغ هم پورته شو.د یادونې وړ ده، چې د روسیې دا پرېکړه د بهرنیو چارو د وزیر سرګي لاوروف د وړاندیز او د ولسمشر ولادیمیر پوتین د فرمان پر بنسټ شوې ده.

**په افغانستان کې به د ټاپ ...**

د کابل او عشق اباد ترمنځ د اړیکو په موخه پلازمېنه عشق اباد کې د سفیر او ماري کې د جنرال قنسل کچې ته د اسلامي امارت د ډیپلوماتیکو اړیکو لوړېدل مهم بللي. ښاغلي برادر دواړو هېوادونو کې د دوه اړخیزې سوداګرۍ د پیاوړتیا لپاره کابل او عشق اباد کې د سوداګریزو خونو او بانکي څانګو پر پرانېستل کېدو او افغان سوداګرو ته د ویزو ورکړې برخه کې د اسانتیاوو پر برابرېدو ټینګار کړی. نوموړي زیاته کړې، د کانونو، ټرانسپورټ، ټرانزیټ، خدمتونو، سیمه ییزې زېربنا او بنسټیزو پروژو د پیل او مدیریت برخو کې د دواړو هېوادونو یو ځای کار کول به په اقتصادي ثبات، پراختیا او ښېرازۍ کې ګټور رول ولري. بله خوا د ترکمنستان د بهرنیو چارو وزیر یاده کتنه کې ویلي: تل يې په نړېوالو ستېجونو کې د افغانستان ملاتړ کړی. رشید مرادوف ویلي، هېواد يې چمتو دی له افغانستان سره د سیاسي اړیکو ترڅنګ د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو د پراخېدو برخه کې ګډ کار ته دوام ورکړي. نوموړي له افغان لوري غوښتي، د ټاپ پروژې مسیر تفصیلي نقشه دې له ترکمنستان سره شریکه کړي، څو پاتې تخنیکي او تطبیقي چارې يې نهایي شي. د ملاعبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړپوړي افغان پلاوی د ایکو سازمان غونډه کې د ګډون په موخه اذربایجان ته تللی.

**چین د روسیې له خوا ...**

د روسیې حکومت وړمه ورځ د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپېژانده، چې دا لوی اقدام د اسلامي امارت له‌خوا په تود هرکلي وستایل شو.

**اذربایجان سره اړیکي ...**

په ورته وخت کې ډاکټر محمد نعیم د دواړو هېوادونو اړیکې تاریخي وبللې او زیاته کړې يې ده، چې د متقابلو ګټو پر بنسټ باید دا اړیکې لا پراخې او پیاوړې شي.په پای کې دواړو لورو د افغانستان او اذربایجان ترمنځ د اړیکو پر لا پراختیا ټینګار وکړ.

**ننګرهار کې څه باندې ...**

د وروستۍ پرېکړې په موخه مرکزي کمېسیون ته واستول شي.

همدارنګه په دې ناسته کې د ننګرهار ولایت په نورو ساحو کې د غصب شویو ځمکو اړوند یو شمېر دوسیې ارزول شوې او په اړه يې لازم تصمیمونه نیول شوي دي.

**لوګر کې د غیرقانوني فعالیت ...**

د موټر پلورنځیو ۶ دفترونه، چې له قانوني جواز پرته يې فعالیت کاوه تړلي او د پاتې نورو دفترونو متصدیانو ته يې د موجودو نیمګړتیاوو د لرې کولو او د کاري چارو د ښه پرمخ وړلو په موخه لازمې لارښوونې کړې دي.

**د افغان تبعه محمود شاه حبیبي ...**

تر سترګو شوې، چې نوموړی دې د اسلامي امارت اړوند د کوم ارګان له لوري نیول شوی وي. د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی له لوري د منظورو شویو شرعي قوانینو په اساس د استخباراتو لوی ریاست په ګډون د اسلامي امارت ټول ارګانونه د بندیانو ټولو حقه حقونو ته ژمن دي او مکلفیت لري، چې نیول شوي کسان په خپل مشخص وخت کې قضایي ارګانونو ته وسپاري.

د افغانستان اسلامي امارت د یوه مشروع نظام په حیث دې ته اړتیا نه لري، کوم کس چې د جرم شک وربانديې کېږي ونیسي او پټ يې وساتي، له دې وړاندې هم د امریکا د متحدو ایالاتو په شمول د ځینو هېوادونو اتباع چې د افغانستان له نافذو قوانینو څخه د سرغړونې له امله توقیف شوي وو، هغوی له خپلو کورنیو سره دوامدار په ارتباط کې وو او په اړه يې عدلي او قضایي ارګانونو علني اجراءات ترسره کړي او هم يې له متبوع هېواد سره په اړه تفاهم شوی دی. د دې تر څنګ اسلامي امارت د مفقودینو د موندنې لپاره د سمع شکایاتو د ارګان په مشرۍ یوه دایمي کمېټه ټاکلې، چې د ټولو هغو کسانو د موندلو په اړه له کشفي او امنیتي ارګانونو سره ګډې څېړنې کوي کوم چې د مختلفو دلائلو له امله په مختلفو وختونو کې لادرکه شوي دي.

# Hewad Daily

شنبه د محرم الحرام ۹ مه ۱٤٤٧ق کال | د چنګاښ ۱٤ مه ۱٤۰٤ ل کال | د 2025م کال د جولای ۵ مه

د ورځپاڼو رئیس: انجنیر عُزیر« بریالی»
موبایل: ۰۲۰۲۵۲۶۳٤۰
مسئول مدیر: شبیر احمد عثماني
موبایل: ۰۷۷۷۷۱۹۱۲۵
مسئول سکرتر: شېر محمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل - افغانستان
داړیکو شمېره: ۲۵۲۶۳٤۰ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیوادورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب سایټ: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹-۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶-۰۷۳۶۰۶۰۷۳


# مولوي امیرخان متقي د بهرني سیاست په برخه کې له چین سره د همکاریو پر پراختیا ټینګار وکړ

د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت سرپرست، مولوي امیرخان متقي د چین د «سینکیانګ» ولایت له مرستیال سرمنشي «ژاو چاو» او مل پلاوي سره کتلي او دواړو لوریو د افغانستان او چین د سیاسي اړیکو د لا پیاوړتیا او د متقابل باور پر بنسټ د همکاریو پر پراختیا خبرې کړې دي. د بهرنیو چارو وزارت د خبرپاڼې له مخې، په دې کتنه کې د دواړو لوریو ترمنځ د افغانستان او د سینکیانګ ولایت ترمنځ د اقتصادي، ټرانزیټي او سوداګریزو فرصتونو پر ارزونه او پراخولو هراړخیز

بحث شوی دی.په دې کتنه کې مولوي امیرخان متقي د افغانستان د بهرني سیاست د اصولو په رڼا کې له چین سره د همکاریو پر لا پراختیا ټینګار کړی او همدارز چینايي لوري د افغانستان د امنیتي وضعیت او د سیمه‌ییز اتصال لپاره د یاد هېواد د موقعیت ستاینه کړې ده. د بهرنیو چارو وزارت په خبرپاڼه کې دا هم ویل شوي چې د چین د «سینکیانګ» ولایت مرستیال سرمنشي «ژاو چاو» همدارز د سینکیانګ او افغانستان ترمنځ د اقتصادي مناسباتو د پراخېدو لپاره د ګډو پروژو او فرصتونو د ارزونې چمتووالی ښودلی دی.

# د افغان تبعه محمودشاه حبیبي د موضوع په اړه د اسلامي امارت د ویاند څرګندونې

د افغانستان اسلامي امارت د امریکا د متحدو ایالاتو هغه تورونه په کلکه ردوي، چې د عمومي ریاست لګولی.
د اسلامي امارت مربوطو ارګانونو د حبیبي د کورنۍ د

محمود شاه حبیبي په نامه د یو افغان د لادرکه کېدو تور یې د افغانستان د استخباراتو پر عریضې په اساس په ټولو اړوندو ادارو کې پلټنه کړې، خو هېڅ داسې نښه نه ده ... ۳مخ

## د مولوي نور جلال جلالي او د ترکیې د سفیر لیدنه؛
# د روغتیايي همکاریو او د افغان علمي کادرونو د ظرفیت لوړولو په اړه خبرې وشوې

د عامې روغتیا وزیر مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د ترکیې له سفیر ښاغلي جِنک اونال سره لیدنه کړې. په دې لیدنه کې د افغانستان او ترکیې تر منځ د روغتیايي همکاریو، د افغان علمي کادرونو د ظرفیت لوړونې، د کابل اتاترک روغتون د خدماتو پر پراختیا، د بیړنیو او اړمنو ... ۲مخ

## د اوبو او انرژۍ وزیر:
# د غزني سلطان بند د څارنې او ساتنې چارې پیل کېږي

د اوبو او انرژۍ وزیر ویلي: غزني ولایت کې د تاریخي حیثیت لرونکي سلطان بند د حفظ او مراقبت چارې به ژر پیل شي. د اوبو او انرژۍ وزیر ملاعبداللطیف منصور دغه څرګندونې پر خپله ایکس پاڼه کړې دي. سلطان بند له تاریخي بندونو څخه دی، چې دغزني ولایت او ورځېرمه ولسوالیو کې د سطحي اوبو او د ځمکې لاندې اوبو د سرچینو د تغذیې یوازینۍ منبع

ده، چې د ۱۲میلیونه متره مکعبو اوبو پر ذخیره کولو سربېره د شاوخوا ۱۵زره هکتاره کرنیزو ځمکو د خړوبولو وړتیا لري.

## د ټولګټو چارو وزارت:
# د وسپنې پټلۍ له لارې ۹۵۳ زره او ۲۰ مټریک ټنه انتقالات شوي

د ټولګټو چارو وزارت وايي، چې د ۱۴۰۴ کال په لومړۍ ربع کې د یاد وزارت د وسپنې پټلۍ له لارې ټولټال ۹۵۳ زره او ۲۰ مټریک ټنه انتقالات ترسره شوي دي. د دغه وزارت د معلوماتو له مخې، د حیرتان بندر له لارې ۷۲۶ زره او ۹۴۶ مټریک ټنه، د اقینې بندر له لارې ۶۸۴ زره او ۳۶ مټریک ټنه، د تورغونډۍ بندر له لارې ۸۵ زره او ۸۵۶ مټریک ټنه او د خواف-هرات له لارې ۷۱ زره او ۷۸۲ مټریک ټنه، چې ټولټال ۹۵۳ زره او۲۰ مټریک ټنه نفتي، غیر نفتي او نور مواد دي، هېواد ته وارد او صادر شوي دي. د دې وزارت د معلوماتو له مخې د انتقالاتو له ډلې یوه برخه ټرانزیټ او صادرات دي، په تېره لومړۍ ربع کې ( ۵۱ زره او ۴۳۲) ټنه ټرانزیټ او صادرات شوي، چې لویه برخه یې وچه مېوه، معدني ډبرې، کچالو، وریجې او د انارو جوس دي.

# لوګر کې ۶۵ شنې خونې جوړېږي

د لوګر د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مسئولینو د دغه ولایت د مرکز په ګډون په محمداغې، برکې برک، خروار او خوشي ولسوالیو کې د ۶۵ بېوزلو بزګرانو لپاره د شنو خونو د جوړولو چارې پیل شوې دي.
د یاد ولایت د کرنې اوبولګولو او مالدارۍ رئیس مولوي شېرآغا پیر حبیب الرحمن باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي چې یادې شنې خونې د ۱۱ میلیونو افغانیو په لګښت د ( یو. ان. ډي. پي) له لوري د ولایت د مرکز په ګډون په ۴ ولسوالیو کې رغول کېږي. نوموړي زیاته کړه چې د دې شنو خونو د جوړولو موخه د بزګرانو ملاتړ او بازار ته د تازه سبزیجاتو او موسمي توکو په وخت رسول دي.
ورته مهال، له یادو شنو خونو څخه برخمنو شویو بزګرانو د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ له ریاست او مرسته کوونکې موسسې مننه وکړه او ژمنه یې وکړه چې د کرنې له اصولو او تخنیکي سپارښتنو سره سم به خپلو کرنیزو چارو ته ادامه

ورکړي، تر څو غوره حاصل ترلاسه کړي.
یادې شنې خونې به د لوګر په کرنیز سکټور کې مثبت بدلونونه راولي او د بزګرانو عواید به ورسره ډېر شي.

# مزارشریف ښار کې یو سړک جوړېږي

د مزارشریف ښاروالۍ مسئولینو د دغه ښار په ۹ مه ناحیه کې د ۷.۵ میلیونو افغانیو په لګښت د یوه سړک د جوړولو چارو د پیل کېدو خبر ورکړی دی.د مزار شریف ښاروالۍ ویاند مصطفی محمدي باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې یاد سړک د ۷۱۳ مترو په اوږدوالي او د ۶ متره سور په درلودلو سره د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو د دفتر په مالي ملاتړ د ۷.۵ میلیونو افغانیو په لګښت د ۴ میاشتو په موده کې جوړېږي نوموړي زیاته کړه، چې په دې پروژه کې د کوڅو کانکرېټول، د سړک غاړو د ویالو جوړول او د دوو وسپنیزو پلچکونو رغول شامل دي. د سیمې اوسېدونکي د یاد سړک په جوړولو خوښي څرګندوي او له سیمه ییزو مسئولینو د ورته نورو تولګټو پروژو د پلي کولو غوښتنه کوي.

# فراه؛ د عیدګاه جامع جومات د بیارغونې چارو بشپړېدنه

د فراه ولایت د ارشاد، حج او اوقافو ریاست مسئولین وايي چې د دغه ولایت په عیدګاه جامع جومات کې د ۱۱ میلیونو
فضل‌الرحمن مستغفر باختر اطلاعاتي آژانس ته وویل چې په دغو پروژو کې د جومات لپاره د احاطوي دېوال رغول،

افغانیو په لګښت د یو شمېر پروژو چارې بشپړې شوې دي.
د یاد ولایت د ارشاد، حج او اوقافو رئیس مولوي
د اوبو منظم سیستم جوړول او د ۱۵ کیلو واټه په وړتیا د برښنا برابرول شامل دي. نوموړي زیاته کړه، چې په یاد ... ۲مخ

# د پاکستان له زندانونو ۲۸ تنه افغان بندیان ازاد شوي

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت پر ایکس پاڼه لیکلي، چې د پاکستان له بېلابېلو زندانونو د روانې چنګاښ میاشتې په ۱۱مه نېټه ۲۸ تنه افغان بندیان له خوشې کېدو وروسته هېواد ته را ستانه شوي دي. د یاد وزارت د معلوماتو له مخې دغه کسان د قانوني اسنادو په لرلو سره بیا هم د پاکستاني پولیسو لهخوا نیول شوي وو او له یوې ورځې څخه نیولې تر ۴ ورځو پورې یې د بند موده تېره کړې ده.

# بغلان؛ د غوري سمنټو فابریکې ۲۸۰ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي

د بغلان ولایت د غوري سمنټو فابریکې د روان ۱۴۰۴ کال په لومړیو درېوو میاشتو کې نږدې ۳۰۰ میلیونه افغانۍ عاید راټول کړي دي. د یادې فابریکې انجنیر شفیع الله واحدي باختراطلاعاتي آژانس ته ویلي چې د روان کال له پیل څخه تردې دمه په یاده فابریکه کې ۴۸ زره ټنه کلینکرسمنټ تولید شوی، چې له پلور څخه یې ۲۸۰ میلیونه افغانۍ عواید راټول او د دولت خزانې ته سپارل شوي دي.د نوموړي په وینا اوس په دې فابریکه کې هره ورځ ۶۰۰ ټنه سمنټ تولیدېږي، چې د تېرکال په پرتله ۲ برابره زیات شوي دي. په ورته وخت کې د غوري سمنټو فابریکې مسؤل له خلکو وغوښتل چې په ساختماني پروژو کې د کورنیو سیمنټو په ځانګړې توګه د غوري سمنټو ... ۲مخ

# له پاکستان او ایران څخه خپل هېواد ته د ۵۲۰۸ کډوالو کورنیو راستنېدنه

د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسیون وړمه ورځ له پاکستان او ایران څخه هېواد ته د ۵۲۰۸ راستنېدونکو افغان کورنیو د راتګ خبر ورکړی دی.د یاد کمېسیون دارالانشاء د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي چې د چنګاښ ... ۲مخ